د هغه چا مثال چې قرآن يې حفظ کړی دی د ټول شوي اوښانو د څښتن په څېر دی، که يې تل ټول شوي وساتي نو پرې به برلاسی وي او که يې خلاص پرېږدي نو ترې به لاړ شي

له ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: "د هغه چا مثال چې قرآن يې حفظ کړی دی د ټول شوي اوښانو د څښتن په څېر دی، که يې تل ټول شوي وساتي نو پرې به برلاسی وي او که يې خلاص پرېږدي نو ترې به لاړ شي".

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه کس چې قرآن کريم يې زده کړی او تلاوت يې خپل عادت ګرځولی وي - هغه که قرآن کريم په ناظره سره وي يا په حفظ - د هغه ټول شوي اوښ د مالک سره پرتله کړی چې په رس يې د اوښ زنګون ټولی وي، نو که همداسې يې ټولی وساتي ورسره به پاتې شي او که يې خوشي کړي نو ترې به لاړ شي او ورک به شي، نو که د قرآن کريم خاوند يې په تلاوت کولو او يادولو دوامدار پاتې شي نو ياد به يې پاتې شي او که يې پرېښود نو ترې هېر به شي؛ تر څو چې ژمنتيا موجوده وي، حفظ به يې پاتې وي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5658